# وجوب العمل بالسنة وكفر من أنكرها

# د رسول الله - صلى الله عليه وسلم - په سنتو د عمل کولو وجوب او ورڅخه د انکار کوونکو کفر

## د رسول الله - صلی الله علیه وسلم - په سنتو د عمل کولو وجوب او ورځخه د انکار کوونکو کفر لیکنه:

عبد العزيز بن عبد الله بن باز رحمه الله

بسم الله الرحمن الرحيم

## سریزه

الحمد لله رب العالمين، والعاقبة للمتقين، والصلاة والسلام على عبده ورسوله نبينا محمد؛ المرسل رحمة للعالمين، وعلى آله وأصحابه الذين حملوا كتاب ربهم سبحانه وسنَّة نبيهم - صلى الله عليه وسلم- إلى من بعدهم، بغاية الأمانة والإتقان، والحفظ التام للمعاني والألفاظ - رضي الله عنهم وأرضاهم - وجعلنا من أتباعهم بإحسان. وحجة على العباد أجمعين أما بعد :

پخوانیو او وسنیو علماوو پدې اتفاق کړی دی چې د احکامو د اثبات او د الله تعالی په سپیڅلي کتاب کې -چې باطل ورته نه له مخکې او نه له شا راتګ کولی شي - د حلالو او حرامو د بیانولو - لپاره بنسټیز اصول د الله تعالی کتاب، بیا د رسول الله - صلی الله علیه وسلم - سنت؛ هغه څوک چې له خواهشاتو خبرې نه کوي، مګر هغه څه وايي چې وحی ورته کیږي، بیا د امت اجماع ده، او عالمان په نورو اصولو کې اختلاف لري چې تر ټولو مهم یې قیاس دی، جمهور علماء پدې نظر دي چې قیاس کله معتبر شرطونه پوره کړي بیا حجت دی، پدې اصولو دلیلونه له شمېر نه وتلي دي او لدې نه زیات او مشهور دي چې دلته یې یادونه وشي.

## د احکامو د اثبات لپاره معتبر اصول

*لومړی اصل: د الله تعالی - محبوب - کتاب.*

لومړی اصل: د الله تعالی معزز کتاب دی او یقینا چې زمونږ د رب وینا د هغه له کتاب څخه په څو ځایونو کې د دې کتاب په پیروي او د حدودو سره یې له ودریدلو او پرې د منګولو لګولو پر وجوب دلالت کوي.

الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَهَذَا كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ فَاتَّبِعُوهُ وَاتَّقُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾

﴿وَهَذَا كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ فَاتَّبِعُوهُ وَاتَّقُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾

او دا کتاب دی چې مونږ نازل کړی دی، نو تاسو د ده پیروي وکړئ او پرهیزګاره شئ، د دې لپاره چې پر تاسو رحم وکړی شي.[1]

او الله تعالی فرمایلي:

﴿قَدْ جَاءَكُمْ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ كَثِيرًا مِمَّا كُنْتُمْ تُخْفُونَ مِنَ الْكِتَابِ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ قَدْ جَاءَكُمْ مِنَ اللَّهِ نُورٌ وَكِتَابٌ مُبِينٌ يَهْدِي بِهِ اللَّهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهُ سُبُلَ السَّلَامِ وَيُخْرِجُهُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِهِ وَيَهْدِيهِمْ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ﴾

﴿قَدْ جَاءَكُمْ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ كَثِيرًا مِمَّا كُنْتُمْ تُخْفُونَ مِنَ الْكِتَابِ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ قَدْ جَاءَكُمْ مِنَ اللَّهِ نُورٌ وَكِتَابٌ مُبِينٌ يَهْدِي بِهِ اللَّهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهُ سُبُلَ السَّلَامِ وَيُخْرِجُهُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِهِ وَيَهْدِيهِمْ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ﴾

---

1 (الأنعام سورت: ۱۵۵ آیت)

(ای اهل کتابو! یقینًا تاسو ته زمونږ رسول راغلی دی چې تاسو ته ډېر هغه څیزونه بیانوي چې تاسو به له کتابه پټول او له ډېرو څخه تېرېږي، یقینًا تاسو ته د الله له جانبه رڼا او روښانه کتاب راغلی دی).[1]

او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِالذِّكْرِ لَمَّا جَاءَهُمْ وَإِنَّهُ لَكِتَابٌ عَزِيزٌ لَا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ تَنْزِيلٌ مِنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ﴾

﴿إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِالذِّكْرِ لَمَّا جَاءَهُمْ وَإِنَّهُ لَكِتَابٌ عَزِيزٌ لَا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ تَنْزِيلٌ مِنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ﴾

(بېشکه هغه کسان چې په ذکر (قرآن) سره کافران شوي دي، کله چې (دا ذکر) دوی ته راغی، په دې حال کې چې یقینًا دغه (ذکر) خامخا ډېر قوي کتاب دی، باطل ده ته نه د ده له مخې نه راتلی شي او نه د ده له شا نه، د ډېر حکمت والا، ښه ستایل شوي (الله) له جانبه رالېږل شوی دی).[2]

او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَذَا الْقُرْآنُ لِأُنْذِرَكُمْ بِهِ وَمَنْ بَلَغَ﴾

﴿وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَذَا الْقُرْآنُ لِأُنْذِرَكُمْ بِهِ وَمَنْ بَلَغَ﴾

(او ما ته دا قرآن وحي شوی دی، د دې لپاره چې په دې (قرآن) سره زه تاسو ووېروم او هغه څوک چې دا ورته رسي).[3]

---

1 (المائدة سورت: ۱۵ آیت)

2 (فصلت سورت: ۴۲،۴۱ آیتونه)

3 ( الأنعام سورت: ۱۹ آیت )

او الله تعالى فرمايلي دي:

﴿ هَذَا بَلَاغٌ لِلنَّاسِ وَلِيُنْذَرُوا بِهِ﴾

﴿ هَذَا بَلَاغٌ لِلنَّاسِ وَلِيُنْذَرُوا بِهِ﴾

(دا (قرآن) د خلقو لپاره پيغام دى او د دې لپاره چې په ده سره خلق خبردار كړى شي).[1]

او په دې مفهوم كې آيتونه ډېر دي، او صحيح احاديث د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- څخه راغلي دي چې موږ ته له قرآن څخه په پيروي كولو او پرې منګولو لګولو امر كوي، دا را په ګوته كوي چې چا پرې منګولې ولګولې هغه پر سمه لار دى او چا چې پرېښود هغه لار وركه كړې ده. - د دې دلايلو له جملې څخه يو دا دى چې له رسول الله -صلى الله عليه وسلم- څخه ثابت دي چې هغه په حجة الوداع كې په خطبه كې وفرمايل:

( إنّي تاركٌ فيكُمْ مَا لَنْ تضلوا إن اعْتَصَمْتُمْ بِهِ كِتَابَ اللّهِ)

( إنّي تاركٌ فيكُمْ مَا لَنْ تضلوا إن اعْتَصَمْتُمْ بِهِ كِتَابَ اللّهِ)

(زه په تاسو كې داسې يو څه پرېښودونكى يم كه چېرته مو پرې منګولې خښې كړې نو هيڅكله به ګمراه نه شئ؛ هغه د الله كتاب دى)

مسلم په خپل صحيح كې روايت كړى دى

او همدا رنګه په صحيح مسلم كې له زيد بن أرقم - رضي الله عنه - څخه روايت دى چې پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي:

---

1 ( ابراهيم سورت: ٥٢ آيت)

« إِنّي تارك فِيكُمْ ثِقْلَين أَوَّلهُما كِتابُ الله فيهِ الهُدَى والنُّور فَخُذوا بِكتَابِ اللهِ وَتَمَسّكُوا بِهِ«
«إِنّي تارك فِيكُمْ ثِقْلَين أَوَّلهُما كِتابُ الله فيهِ الهُدَى والنُّور فَخُذوا بِكتَابِ اللهِ وَتَمَسّكُوا بِهِ»
«زه په تاسو کې دوه درانده څېزونه پرېښودونکی یم چې لومړی يې د الله کتاب دی، په هغه کې هدايت او رڼا ده، نو د الله کتاب واخلئ او منګولې پرې خښې کړئ»
نو د الله -تعالى- په كتاب يې ټينګار وكړ او - خلک یې - ورته وهڅول، بیا یې وفرمایل:
«وَأَهْلُ بَيْتي أذَكِّركُمُ الله في أهل بيتي أذكركم الله في أهل بيتي»
«وَأَهْلُ بَيْتي أذَكِّركُمُ الله في أهل بيتي أذكركم الله في أهل بيتي»
«او زما کورنۍ؛ الله دریادوم زما د کورنۍ په اړه، الله دریادوم زما د کورنۍ په اړه»
او په يو بل لفظ كې يې د قرآن په اړه وفرمایل:
هو حبل الله من تمسك به كان على الهدى ومن تركه كان على الضلال.
(هغه د الله رسۍ ده، چا چې ونیوله هغه په هدایت دی او چا چې پرېښوده هغه په ګمراهۍ دی).
او په دې معنا حديثونه ډير دي او د صحابه کرامو او له هغوی نه وروسته د علم او ايمان د خاوندانو سره پدې خبره اتفاق دی چې د الله پر کتاب منګولې خښول، پرې فيصلې کول، او د رسول الله -صلی الله عليه وسلم- له سنت سره ورته پريکړې وروړل واجب دي، پدې اړه دليلونه دومره زيات

دي چې بسنه کوي او له زياتو راوړلو يې په همدې اندازه بسنه کيږي.

**دويم اصل: هغه چې له رسول الله - صلی الله عليه وسلم - صحابه کرامو او له هغوی وروسته د علم او ايمان له خاوندانو صحيح ثابت دي**

او له درې ګونو اصولو څخه دويم يې هغه دی چې اجماع پرې شوې ده؛ د رسول الله - صلی الله عليه وسلم -، د هغه له صحابه کرامو او له هغوی نه وروسته د علم او ايمان له خاوندانو څخه صحيح ثابت شوي - سنت - دي، هغوی پدې بنسټيز اصل ايمان لري، د شاهد په حيث کاروي او امت ته يې ورزده کوي،

دوی په دې اړه ډېر کتابونه ليکلي او د اصول فقهې او مصطلح په کتابونو کې يې بيان کړي دي، د دې خبرې بې شمېره ثبوتونه دي، ځکه دا هغه څه دي چې د الله تعالی په سپېڅلي کتاب کې د هغه په اطاعت او پيروی امر شوی دی او پدې - امر - سره د هغه وخت خلک او له هغوی وروسته ټول مخاطب دي، ځکه چې هغه د ټولو لپاره د الله رسول دی، او ځکه چې دوی ته د قيامت تر ورځې پورې د هغه په اطاعت او پيروی امر شوی دی او ځکه چې هغه - صلی الله عليه وسلم - د الله تعالی د کتاب مفسر، په خپلو ويناوو، کړنو او تقريراتو سره يې د اجمال بيانوونکی دی، او که دا سنت نه وای نو مسلمانانو به د لمونځونو رکعتونه، طريقه او هغه څه چې پر دوی باندې پکې واجب دي نه پېژندل، او نه به د

روژې، زکات، حج، جهاد، امر بالمعروف او نهی عن المنکر د حکمونو په تفصيل پوهيدل او د نه به د معاملاتو، محرماتو، او هغه حدودو او جزاګانو د احکامو په تفصيل پوهيدل چې الله تعالی - د محرماتو د تر سره کولو - په پايله کې واجب کړي دي، د دې دليلونو له جملې څخه هغه چې د الله تعالی په کتاب کې په آل عمران سورت کې راغلي دي د الله تعالی دا وينا ده:

﴿وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾

﴿وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾

(او د الله او د رسول اطاعت کوئ، لپاره د دې چې پر تاسو رحم وکړی شي)[1]

او په النساء سورت کې د الله تعالی دا وينا:

﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ذَلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا﴾

﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ذَلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا﴾

(اې هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! د الله خبره منئ او د رسول خبره منئ او د خپلو د امر د خاوندانو، نو که چېرې تاسو په خپلو کې د څه شي په باره کې هم نزاع (جګړه او اختلاف) وکړئ، نو هغه (شی) الله او د هغه رسول ته

---

[1] ( آل عمران سورت: ۱۳۲ آيت)

وګرځوئ که چېرې تاسو په الله او په ورځ د اخرت ايمان لرئ، دا (کار) ډېر غوره دی او د انجام په لحاظ ډېر ښه دی)[1]

همدا رنګه الله تعالی په النساء سورت کې فرمايلي دي:

﴿مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ وَمَنْ تَوَلَّى فَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا﴾

﴿مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ وَمَنْ تَوَلَّى فَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا﴾

(چا چې د رسول اطاعت وکړ، نو يقيناً هغه د الله اطاعت وکړ او څوک چې (له اطاعت نه) وګرځېده، نو ته مونږه پر هغوی باندې څارونکی (نګهبان) نه يې لیږلی)[2]

او دا څنګه شوني ده چې پيروي يې وشي او خلک د الله کتاب او د هغه د رسول سنت ته راجع کړای شي پداسې حال کې چې نه پرې استدلال کيږي او نه خوندي ساتل شوي دي، که چېرته داسې وي نو الله تعالی به خپل بنده ګان داسې يو څه ته راجع کړي وي چې هيڅ شتون نه لري چې - دا ادعا او ګمان - تر ټولو لوی باطل او په الله تعالی تر ټولو لوی کفر کول او بدګماني ده.

او الله -تعالی- په النحل سورت کې فرمايلي دي:

﴿وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ﴾

﴿وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ﴾

---

1 ( النساء سورت: ۵۹ آيت)
2 النساء سورت: ۸۰ آيت

(او مونږ تا ته ذکر (وحي) نازل کړی دی، د دې لپاره چې ته خلکو ته هغه څه ښه واضحه کړې چې دوی ته نازل کړی شوي دي او د دې لپاره چې دوی ښه فکر وکړي)[1]

او همدا رنګه پدې کې الله تعالی فرمایلي:

﴿وَمَا أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِي اخْتَلَفُوا فِيهِ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ﴾

﴿وَمَا أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِي اخْتَلَفُوا فِيهِ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ﴾

(او مونږ په تا باندې کتاب نه دی نازل کړی مګر د دې لپاره چې ته دوی ته هغه (کار) ښه واضحه کړې چې دوی په هغه کې اختلاف کوي او د هغه قوم د هدایت او رحمت لپاره (مو نازل کړی دي) چې ایمان لري)[2]

نو څنګه کیدای شي چې الله تعالی خپل رسول - صلی الله علیه وسلم - ته داسې یو څه ور تر غاړې کړي چې نازل شوی کتاب ورته بیان کړي پداسې حال کې چې سنت یې نه وي، او یا پرې استدلال نه کیږی؟

بیلګه یې د النور په سورت کې د الله تعالی دا وینا ده:

﴿قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ وَعَلَيْكُمْ مَا حُمِّلْتُمْ وَإِنْ تُطِيعُوهُ تَهْتَدُوا وَمَا عَلَى الرَّسُولِ إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ﴾

---

1 (النحل سورت: ۴۴ آیت)

2 ( النحل سورت: ۶۴ آیت )

﴿قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ وَعَلَيْكُمْ مَا حُمِّلْتُمْ وَإِنْ تُطِيعُوهُ تَهْتَدُوا وَمَا عَلَى الرَّسُولِ إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ﴾

(ته دوی ته ووایه: تاسو د الله اطاعت وکړئ او د رسول اطاعت وکړئ، نو که دوی مخ واړوي، نو بېشکه همدا خبره ده چې په دغه (رسول) باندې هغه (د تبلیغ) بار دی چې پرې اېښودل شوی دی او پر تاسو باندې هغه بار دی چې په تاسو اېښودل شوی دی او که تاسو د هغه (رسول) اطاعت وکړئ (نو) نېغه لار به ومومئ، او د رسول په ذمه نشته مګر ښکاره پیغام رسول).

او الله تعالی په همدې سورت کې فرمایلي دي:

﴿وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾

﴿وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾

(او تاسو لمونځ قایموئ او زکات ادا کوئ او د رسول اطاعت کوئ، د دې لپاره چې په تاسو رحم وکړی شي)[1]

او الله تعالی په الأعراف سورت کې فرمایلي دي:

﴿قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ يُحْيِي وَيُمِيتُ فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ النَّبِيِّ الْأُمِّيِّ الَّذِي يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَكَلِمَاتِهِ وَاتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ﴾

---

1 ( النور سورت: ۵۶ آیت)

﴿قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ يُحْيِي وَيُمِيتُ فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ النَّبِيِّ الْأُمِّيِّ الَّذِي يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَكَلِمَاتِهِ وَاتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ﴾

(ته ووايه: اې خلقو! بېشکه زه ستاسو د ټولو په طرف د هغه الله (رالېږل شوی) رسول يم چې خاص د هغهٔ لپاره د اسمانونو او ځمکې بادشاهي ده، نشته هېڅ حق معبود مګر همدی دی، همدغه ژوند ورکوي او مرګ ورکوي، نو تاسو پر الله او د هغه پر رسول ايمان راوړئ چې نبي دی، امي دی، هغه چې پر الله او د هغه پر کلماتو ايمان لري او تاسو د هغه پيروي وکړئ، د دې لپاره چې تاسو هدايت ومومئ).[1]

او په دې آيتونو کې څرګند دليل دی چې د هغه - عليه الصلاة والسلام - په پيروی کې هدايت او رحمت دی، او دا څنګه کيدی شي چې د هغه په سنتو عمل و نه شي او يا دا چې ووايي چې هيڅ صحت نه لري او يا پرې باور نه شي کېدلی.

او الله - تعالی - په النور سورت کې فرمايلي دي:

﴿فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾

﴿فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾

---

1 (الأعراف سورت: ۱۵۸ آيت)

(نو هغه کسان دې وویرېږي چې د هغه (رسول) له حکم نه مخالفت کوي، له دې نه چې دوی ته څه افت ورسيږي، يا دوی ته ډېر دردوونکی عذاب ورسيږي)

او په سورة الحشر کې يې فرمايلي دي:[1]

﴿وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا﴾
﴿وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا﴾

(او رسول چې تاسو ته څه هم درکړي، نو هغه واخلئ او له څه نه چې هغه تاسو منع کړي، نو تاسو منع شئ).

او پدې معنا کې آيتونه ډير دي او ټول يې د هغه - عليه الصلاة و السلام - د تابعدارۍ په وجوب دلالت کوي او د هغه څه په پيروی چې هغه پرې راتګ کړی دی لکه څرنګه چې د الله - تعالى - له کتاب څخه په پيروۍ د وجوب او پرې منګولو لګولو، د اوامرو (منل) او له نواهيو (ځان ژغورلو) باندې وړاندې دليلونه تېر شول، چې دا دواړه يو له بل سره تړلي اصلونه دي، چا چې له يو څخه انکار وکړ له بل څخه يې هم انکار کړی او دروغ يې ګڼلی دی او دا کفر، ګمراهي او د اسلام له دائرې څخه - د علم او ايمان د خاوندانو په اجماع سره - وتل دي.

له هغه احاديثو څخه چې د رسول الله - صلى الله عليه وسلم - نه پدې اړه ثابت دي -

او له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه متواتر حديثونه راغلي دي چې د هغه اطاعت يې واجب او نافرماني يې حرامه

1 ( الحشر سورت: ٦٣ آيت )

کړې ده، دا د هغه چا په حق کې هم دي چې د هغه په عصر کې وو او هغوی چې د قیامت تر ورځې پورې راځي، - د دې حدیثونو - له جملې څخه یو هغه دی چې په صحیحینو کې له أبو هریرة - رضي الله عنه - څخه ثابت دی چې رسول الله - صلى الله علیه وسلم- فرمایلي دي:

«مَنْ أَطَاعَنِي فَقد أَطَاعَ الله ومَن عَصَانِي فقد عَصَى الله»

«مَنْ أَطَاعَنِي فَقد أَطَاعَ الله ومَن عَصَانِي فقد عَصَى الله»

«چا چې زما اطاعت وکړ، نو د الله اطاعت یې کړی دی او چا چې زما نافرماني وکړه نو د الله تعالی نافرماني یې کړې ده».

او له همده - رضي الله عنه - څخه په صحیح البخاري کې راغلي دي چې رسول الله -صلى الله علیه وسلم- فرمایلي دي:

«كلّ أمَّتي يَدخُلونَ الجنةَ إلا مَن أَبَى قِيلَ يا رسولَ اللهِ ومَن يَأبَى قَالَ مَن أَطَاعَني دَخَلَ الجنة ومَن عَصَاني فقد أَبَى»

«كلّ أمَّتي يَدخُلونَ الجنةَ إلا مَن أَبَى قِيلَ يا رسولَ اللهِ ومَن يَأبَى قَالَ مَن أَطَاعَني دَخَلَ الجنة ومَن عَصَاني فقد أَبَى»

«زما ټول امتیان جنت ته داخلیږي مګر هغه څوک چې انکار وکړ، وویل شو ای د الله رسوله، او څوک دی چې انکار کوي، هغه وفرمایل: چا چې زما اطاعت وکړ جنت ته داخل شو او چا چې زما نافرماني وکړه نو هغه انکار وکړ»

أحمد، ابوداود او حاکم د مقدام بن معدي کرب په روایت د رسول الله -صلى الله علیه وسلم- څخه روایت کوي چې فرمایلي یې دي:

«أَلا إِنِي أوتِيتُ الكِتابَ ومِثْلَه مَعَهُ أَلا يُوشِكُ رَجلٌ شَبْعانُ على أريكَتِهِ يَقولُ عَليكمْ بِهذا القُرآنِ فَما وَجَدْتُمْ فيهِ مِن حَلال فأَحِلُّوهُ وَمَا وَجَدْتُم فيِه مِن حَرامٍ فَحَرِّمُوهُ»
«أَلا إِنِي أوتِيتُ الكِتابَ ومِثْلَه مَعَهُ أَلا يُوشِكُ رَجلٌ شَبْعانُ على أريكَتِهِ يَقولُ عَليكمْ بِهذا القُرآنِ فَما وَجَدْتُمْ فيهِ مِن حَلال فأَحِلُّوهُ وَمَا وَجَدْتُم فيِه مِن حَرامٍ فَحَرِّمُوهُ»
«خبردار اوسئ چې ماته کتاب او د کتاب په څېر ورسره راکړل شوی دی، نږدې ده چې يو سړی به (وموميئ) (چې وضعيت به يې د مالداره بې پروا انسان په څېر وي) په خپل تخت به ناست وي او وايي به: دا قرآن ټينګ ونيسئ، څه مو چې پکې حلال ومونډل حلال يې وګڼئ او هغه څه مو چې پکې حرام ومونډل، حرام يې وګڼئ»
أبو داود او ابن ماجه په صحيح سند سره له ابن أبي رافع څخه روايت کوي، هغه له خپل پلار څخه روايت کوي چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي:
«لا أَلْفَينَّ أَحَدَكُم مُتّكِئًا عَلى أَريكتِهِ يَأتِيهِ الأمْرُ مِن أَمْري مَمّا أَمَرْتُ بِهِ أو نَهَيْتُ عَنْهُ فَيقولُ لا ندْري، ما وَجَدْنا في كِتابِ اللهِ اتَّبَعْنَاه»
«لا أَلْفَينَّ أَحَدَكُم مُتّكِئًا عَلى أَريكتِهِ يَأتِيهِ الأمْرُ مِن أَمْري مَمّا أَمَرْتُ بِهِ أو نَهَيْتُ عَنْهُ فَيقولُ لا ندْري، ما وَجَدْنا في كِتابِ اللهِ اتَّبَعْنَاه»
«هيڅوک ستاسې څخه داسې ونه وينم چې په خپل تخت يې تکيه وهلې وي او زما له حکمونو څخه ورته يو حکم راشي چې ما پرې امر کړی وي او يا مې ورڅخه منع کړې وي، نو

وايي چې نه پوهيږو، هغه څه مو چې د الله په كتاب كې وموندل پيروي يې كوو»
او له حسن بن جابر څخه روايت دی وايې چې له مقدام بن معديكرب - رضي الله عنه - څخه مې اوريدلي دي چې فرمايل يې:
حَرّمَ رَسولُ الله -صلى الله عليه وسلم- يومَ خَيْبَرَ أَشْياءَ ثم قَالَ « يُوشِكُ أَحَدُكُم أَن يُكذِّبَني وَ هو مُتّكِئ يُحَدّث بحدِيثي فيقولُ بَيْنَنا وَبَيْنكُم كِتابُ اللهِ فما وَجَدْنَا فِيهِ من حَلالٍ اسْتَحْلَلْنَاهُ وَمَا وَجَدْنا فيه من حَرام حَرّمْنَاهُ ألا إنَّ مَا حَرّمَ رسُولُ اللهِ مِثْلُ مَا حَرّمَ الله»
حَرّمَ رَسولُ الله -صلى الله عليه وسلم- يومَ خَيْبَرَ أَشْياءَ ثم قَالَ « يُوشِكُ أَحَدُكُم أَن يُكذِّبَني وَ هو مُتّكِئ يُحَدّث بحدِيثي فيقولُ بَيْنَنا وَبَيْنكُم كِتابُ اللهِ فما وَجَدْنَا فِيهِ من حَلالٍ اسْتَحْلَلْنَاهُ وَمَا وَجَدْنا فيه من حَرام حَرّمْنَاهُ ألا إنَّ مَا حَرّمَ رسُولُ اللهِ مِثْلُ مَا حَرّمَ الله»
رسول الله - صلى الله عليه وسلم - د خيبر په ورځ ځينې شيان حرام كړل بيا يې وويل: «كيدی شي چې يو ستاسو مې دروغجن وګڼي پداسې حال كې چې په بالښت به يې تكيه وهلې وي او زما حديث به بيانوي نو وايې به: زمونږه او ستاسو تر منځه د الله كتاب دی، نو څه مو چې پكې حلال وموندل حلال يې ګڼو (عمل پرې كوو) او هغه څه مو چې پكې حرام وموندل حرام يې ګڼو (عمل پرې نه كوو)، نو خبردار اوسئ، هغه څه چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - حرام كړي دي داسې دي لكه الله چې حرام كړي وي»
حاكم، ترمذي او ابن ماجه په صحيح اسناد سره روايت كړی دی.

او له رسول الله - صلى الله عليه وسلم - څخه متواتر حديثونه راغلي دي چې هغه به په خطبه کې خپلو صحابه کرامو ته سپارښتنه کوله چې حاضر دې غائب خلک خبر کړي او ورته ويل به يې:

«ربّ مبلغ أوعى من سامع»

«ربّ مبلغ أوعى من سامع»

"ځيني وختونه هغه څوک ښه پوهيږي چې خبر ورته رسيږي د هغه چا په پرتله چې خبر ورته رسوي".

له دې جملې څخه هغه څه دي چې په صحيحينو کې دي چې رسول الله - صلى الله عليه وسلم - چې کله په حجة الوداع کې د عرفې په ورځ او د قربانۍ په ورځ خطبه ويله نو خلکو ته يې وفرمايل:

«فليبلغ الشاهد الغائب فرب من يبلغه أوعى له ممن سمعه»

«فليبلغ الشاهد الغائب فرب من يبلغه أوعى له ممن سمعه»

«حاضر دې غائبو ته ورسوي، ځکه ډيرى وختونه هغه چاته چې خبر ورسيږي ډير ښه پرې پوهيږي د هغه چا په پرتله چې ورڅخه يې اوري»

او که چېرته يې سنت په اوريدونکي او هغه چاته چې رسيږي حجت نه وو او که چېرته تر قيامته تل پاتې نه وو، نو هيڅکله به يې ورته په رسولو امر نه وکړى، نو لدې څخه معلوميږي چې سنت په هغه چا حجت دي چې د رسول الله - صلى الله عليه وسلم - له خولې څخه يې اوريدلي وي- او په هغه چا چې په صحيح اسناد سره ورته نقل شوي وي.

د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- صحابه كرامو د رسول الله -صلى الله عليه وسلم - قولي او فعلي سنتونه حفظ كړي وو او له ځانونو وروسته يې تر تابعينو ورسول، بيا تابعينو له ځانونو وروسته نورو ته ورسول، همدا رنګه ثقه علماوو نسل په نسل او پيړۍ په پيړۍ رانقل كړل  او په كتابونو كې يې راټول كړل، سم او ناسم يې پكې په ګوته كړل او د دې د پېژندلو لپاره يې يو لړ قوانين او ضوابط رامنځته كړل چې پر مټ يې قوي روايت له كمزوري څخه پېژندل كېده او د علماوو كتابونو د سنت كتابونه لكه صحيحين او داسې نور راونغاړل او داسې ساتنه يې ورڅخه وكړه لكه څرنګه چې الله تعالى د خپل كتاب ساتنه له هر ډول لاسوهنې او د فاسقانو له عبثياتو او د باطل پرستو له تحريف څخه وساته، څرنګه چې د الله تعالى دا قول پرې دلالت كوي:

﴿إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ﴾

﴿إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ﴾

(مونږ قران كريم نازل كړى دى او مونږ يې حفاظت په خپله كوو).

او پدې كې شک نشته چې د رسول الله - صلى الله عليه وسلم - سنت د الله تعالى لخوا نازل شوې وحې ده، نو الله تعالى يې داسې ساتنه كړې ده لكه څرنګه يې چې د خپل كتاب ساتنه كړې ده، او داسې علماء يې ورته د نقد په موخه ګمارلي دي چې د باطل پرستو د هر ډول تحريف او د جاهلانو د هر ډول تاويل مخنيوى يې كوي، او هر هغه څه چې پرې جاهلانو، دروغجنو او ملحدانو پورې كړي دي هغه ترې لرې كوي،

ځکه چې الله -جل جلاله- د خپل کتاب لپاره تفسير ګرځولې ده او د اجمالي حکمونو لپاره يې تفصيل او بيان ګرځولی دی، او نور داسې حکمونه يې ور اضافه کړي دي چې قرآن کريم کې پرې ښکاره دليل نشته، لکه د رضاعت حکمونه، د ميراث ځيني حکمونه او د ښځې او عمه تر منځه يې په نکاح کې يو ځای کول او يا د ښځې او خاله تر منځه يې او داسې نور حکمونه چې صحيح سنت پرې ثابت دي حال دا چې د الله تعالی په کتاب کې نشته.

او له هغه ځه نه چې پدې اړه له صحابه کرامو، تابعينو او له هغوي نه وروسته له اهل علمو څخه روايت شوي دي، د سنت د تعظيم او پرې د عمل کولو د وجوب په اړه دي...

په صحيحينو کې له أبو هريرة - رضي الله عنه - څخه روايت دی وايي:

لما توفي رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وارتد من ارتد من العرب قال أبو بكر الصديق -رضي الله عنه- والله لأقاتلن من فرق بين الصلاة والزكاة، فقال له عمر -رضي الله عنه-: «كيف تقاتلهم وقد قال النبي -صلى الله عليه وسلم-:» « أمِرْتُ أَنْ أقَاتِلَ النَّاسَ حَتى يَقُولُوا لا إِلهَ إِلا الله فَإِذا قَالوها عَصَمُوا مِني دِمَاءَهُم وَأَموَالَهُم إلا بحقِّها» فقال أبو بكر الصديق: أليست الزكاة من حقها والله لو منعوني عناقًا كانوا يؤدونها إلى رسول الله -صلى الله عليه وسلم- لقاتلتهم على منعها. فقال عمر -رضي الله عنه-: فما هو إلا أن عرفت أن الله قد شرح صدر أبي بكر للقتال فعرفت أنه الحق،

کله چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - وفات شو او له عربو څخه مرتد شول هغه څوک چې مرتد کېدل، ابوبکر صدیق - رضي الله عنه - وفرمایل: قسم په الله چې له هغه چا سره به وجنګېږم چې د لمانځه او زکات تر منځه توپیر وکړي، نو عمر - رضي الله عنه - ورته وویل: «څنګه ورسره جنګیږې حال دا چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي دي: » «ما ته امر شوی دی چې له خلکو سره تر هغه پورې وجنګیږم تر څو چې دوی (لا إِلهَ إلا الله) ووایي، کله یې چې وویل نو زما څخه یې خپلې وینې او خپل مالونه وساتل مګر په حقه سره» نو أبوبکر صدیق وفرمایل: آیا زکات د الله تعالی له حقونو څخه ندی، قسم په الله که دوی زما څخه یو وزګوړی - د وزې بچی چې یو کال یې پوره کړی وي او په دویم کال ورداخل شوی وي - منع کړي چې دوی به رسول الله -صلی الله علیه وسلم- ته ورکاوه نو زه به ورسره د منع کولو له امله وجنګیږم. نو عمر وویل: هغه مهال زه پوه شوم چې الله - تعالی - د ابو بکر سینه جګړې ته پرانیستلې ده نو زه پوه شوم چې هغه حق دی،

او صحابه کرامو – رضي الله عنهم – یې پدې کې پیروي وکړه، نو د مرتدینو سره تر هغه پورې وجنګیدل تر څو یې اسلام ته راوګرځول او هغه څوک یې ووژل چې په مرتد پاتې کېدلو یې اصرار درلود، نو پدې کیسه کې د سنت په تعظیم او پرې د عمل کولو په وجوب ستر دلیل پروت دی، همدا رنګه یوه نیا (جده) صدیق - رضي الله عنه - ته راغله او د خپل میراث په اړه یې ترې پوښتنه کوله نو هغه ورته وفرمایل: د الله په کتاب کې ستا لپاره هیڅ شی نشته، او زه پداسې څه نه

پوهیږم چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- به درته په کوم شي پرېکړه کړی وي، او زه به له خلکو څخه - پدې اړه - پوښتنه وکړم.

بیا هغه - رضي الله عنه - له صحابه کرامو څخه پوښتنه وکړه، نو ځینو یې په وړاندې ګواهي ورکړه چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - نیا ته (د میراث) شپږمه برخه ورکړې ده او پدې یې ورته فیصله کړې ده، او عمر - رضي الله عنه - به خپلو مامورینو ته توصیه کوله چې د خلکو تر منځه د الله په کتاب پرېکړه وکړي، که چېرته قضیه د الله په کتاب کې و نه مومي نو د رسول الله - صلی الله علیه وسلم - په سنت سره دې ترسره کړي.

او کله چې خلکو ته د سقط ( په ښځې باندې د تیرې له امله د ماشوم ضایع کولو ) کې ستونزه پیدا شوه، نو له صحابه کرامو - رضي الله عنهم - څخه یې پوښتنه وکړه، نو محمد بن مسلمة او مغیره بن شعبة - رضي الله عنهما - یې په وړاندې ګواهي ورکړه چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - پدې کې د دیت په حیث د یو ښایسته غلام او یا ښایسته وینځې د ورکولو پرېکړه کړې ده، نو ده - رضي الله عنه - هم په همدې پرېکړه وکړه.

او کله چې عثمان - رضي الله عنه - ته د ښځې د عدت په اړه ستونزه پیدا شوه چې آیا د خاوند له مرګ نه وروسته به د خاوند په کور کې عدت تیروي ( که نه؟) نو فریعة بنت مالک بن سنان چې د أبو سعید خور کیږي - رضي الله عنها - ورته خبر ورکړ چې هغې ته رسول الله -صلی الله علیه وسلم - امر

وکړ چې د خاوند له مرګ نه وروسته یې په کور کې پاتې شي تر دې چې عدت پاي ته ورسیږي، نو هغه - رضي الله عنه - هم همدا ډول پرېکړه وکړه.

همدا رنګه یې د سنت له مخې په ولید بن عقبه باندې د شرابو د څښلو له امله د حد جاري کولو حکم وکړ او کله چې علي -رضي الله عنه - ته خبر ورسیده - چې عثمان -رضي الله عنه - د حج تمتع نه منع کوي، علي -رضي الله عنه- د حج او عمرې یوځای احرام وتړلو، او ویې فرمایل: د رسول الله - صلی الله علیه وسلم - سنت به د هیچا د وینا له امله پرې نږدم،

او کله چې په ابن عباس - رضي الله عنهما - باندې ځینو خلکو د حج د متعې په اړه د ابوبکر او عمر - رضي الله عنهما - په ویناوو استدلال وکړ چې هغوی حج او عمره سره نه جلا کول یعني په یو احرام کې یې دواړه کول، - او ابن عباس یې تر منځه متعه ( له احرام څخه وتل واجب ګڼل ) نو ابن عباس وفرمایل : نږدې ده چې له آسمان څخه درباندې تیږې راووریږي؛ زه وایم: رسول الله - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي دي او تاسو وایئ چې ابوبکر او عمر ویلي دي،

نو کله چې د ابوبکر او عمر د وینا له امله د سنت په پرېښودلو د سزا ویره شته نو د هغه چا به څه حال وي چې له هغوی ښکته د نورو خلکو د وینا له امله او یا یوازې د خپلې راي او اجتهاد په خاطر یې مخالفت کوي، او کله چې ځینو خلکو د عبد الله بن عمر - رضي الله عنهما- سره د ځینو سنتو په اړه مخالفت وکړ نو عبدالله ورته وویل: آیا مونږ ته د عمر په پیروۍ امر شوی که د سنت په پیروۍ باندې؟

او کله چې یو سړي عمران به حصین -رضي الله عنهما- ته وویل: مونږ ته د الله له کتاب څخه بیان وکړه پداسې حال کې چې هغه ورته له سنت څخه بیان کاوه، نو هغه - رضي الله عنه - په غصه شو او يې فرمایل: بیشکه سنت د الله تعالى د کتاب تفسیر دی او که چېرته سنت نه وای نو پدې به نه پوهیدو چې ماسپښین څلور رکعته، ماښام درې رکعته او سهار دوه رکعته دي او د زکات د احکامو په تفصیل به نه پوهېدو او داسې نور احکام چې په سنتو کې يې تفصیل بیان شوی دی،

او له صحابه کرامو - رضي الله عنهم - څخه د سنت د تعظیم او پرې د عمل کولو په وجوب او له مخالفت څخه يې د ځان ساتنې په اړه ډیر زیات آثار راغلي دي، له جملې څخه يې دا هم دي چې عبد الله عمر - رضي الله عنهما - چې کله د رسول الله - صلى الله علیه وسلم - دا وینا بیانوله:

﴿لا تَمْنَعُوا إِمَاءَ اللهِ مَسَاجِدَ اللهِ﴾.

﴿لا تَمْنَعُوا إِمَاءَ اللهِ مَسَاجِدَ اللهِ﴾.

﴿د الله تعالى بندګانې د الله له جوماتونو څخه مه منع کوئ﴾.

نو ځینو زامنو يې وویل: قسم په الله چې منع به يې کړو، نو عبد الله پرې غصه شو او سختې سپکې سپورې يې ورته وویلې او ويې فرمایل: زه وایم چې رسول الله ویلي او تاسو وایئ چې په الله قسم دی چې منع به يې کړو.

او عبد الله بن المغفل المزني - رضي الله عنه - چې د پیغمبر - صلى الله علیه وسلم - له صحابه و څخه دی، کله يې چې یو خپلوان ولید چې تیږې يې ویشتلې نو لدې کار څخه يې منع

کړ او ورته يې وويل چې: رسول الله - صلی الله عليه وسلم- له تيږو ورولو څخه منع فرمايلي دي او داسې يې ويلي دي چې - په تيږو ويشتلو - خو نه ښکار کيږي او نه پرې دښمن ضربه ويني مګر غاښ ماتوي او سترګه ړندوي، نو يو څه وخت وروسته يې بيا وليد چې تيږې يې ويشتلې نو ويې ويل: قسم په الله که هيڅ خبرې درسره وکړم، زه درته وايم چې رسول الله -صلی الله عليه وسلم- له تيږو ويشتلو منع کړې ده او ته يې بيا ولې؟

او بيهقی د جليل القدر تابعي؛ ايوب السختياني څخه روايت کړی دی چې هغه فرمايلي دي: (کله  چې دې يو سړي ته سنت بيانول او هغه درته وويل چې دا پرېږده او له قرآن څخه راته بيان وکړه، نو پوه شه چې دا سړی ګمراه دی)،

او اوزاعي - رحمه الله - فرمايلي دي: (سنت د کتاب په اړه قضاوت کوي؛ مطلق يې مقيدوي يا - يې په اړه  - په هغه حکمونو سره (پريکړه کوي) چې په قرآن کې نه وي ذکر شوي لکه څرنګه چې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ﴾
﴿وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ﴾

(او مونږ تا ته ذکر (وحي) نازل کړی دی، د دې لپاره چې ته خلکو ته هغه څه ښه واضحه کړې چې دوی ته نازل کړی شوي دي او د دې لپاره چې دوی ښه فکر وکړي).

او وړاندې د رسول الله -صلی الله عليه وسلم- وينا تېره شوه چې:

«أَلا إِني أوتِيتُ الكِتابَ ومثلَه مَعَهُ»
«أَلا إِني أوتِيتُ الكِتابَ ومثلَه مَعَهُ»
«خبردار اوسئ چې ماته قرآن او په څېر يې يو بل څه راکړل شوي دي»

بيهقي له عامر الشعبي - رحمه الله - څخه روايت کوي چې هغه ځينو خلکو ته وويل: [يقينا چې تاسو لدې امله هلاک شوئ چې آثار مو پريښودل، (له آثارو ) څخه يې موخه صحيح احاديث وو)،

همدا رنګه بيهقي له اوزاعي څخه روايت کوي چې هغه - رحمه الله - خپلو ځينو ملګرو ته وويل: [کله چې درته د رسول الله - صلى الله عليه وسلم - څخه يو حديث ورسيد، نو پام کوه چې په بل څه ونه غږيږې، ځکه چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- د الله -تعالى- له لوري رسوونکى دى).

بيهقي د لوى امام سفيان بن سعيد الثوري -رحمه الله- څخه روايت کړى دى چې هغه فرمايلي دي: [يقينا ټول علم؛ په آثارو پوهه کې دى)،

او مالک - رحمه الله - فرمايلي دي: [مو ټول - يا د بل چا خبرې لره - ردوونکي يو او يا زمونږ خبره د بل چا لخوا رد کيږي مګر د دې قبر خاوند او د رسول الله - صلى الله عليه وسلم - قبر ته يې اشاره وکړه).

او ابو حنيفه - رحمه الله - فرمايلي دي: [کله چې حديث د رسول الله - صلى الله عليه وسلم - څخه راغلى وي، نو په سر او سترګو مو قبول دى)

او شافعي -رحمه الله- فرمايلي دي: (هركله چې ما له رسول الله (صلى الله عليه وسلم) څخه كوم صحيح روايت كړ او بيا يې وانخلم، نو زه تاسو شاهد ګرځوم چې زما عقل تللى دى).

او هغه -رحمه الله- همدا رنګه ويلي دي: (كله مې چې يوه وينا وكړه او پر خلاف يې د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- څخه حديث وو نو زما وينا په ديوال وولئ).

او امام احمد بن حنبل - رحمه الله- ځينو ملګرو ته وويل: (نه زما تقليد كوه او نه د مالک تقليد كوه او نه د شافعي، او له هغه ځاى څخه اخيستل وكړه چې مونږ ترې اخيستل كړي دي).

او هغه - رحمه الله - همدا رنګه فرمايلي دي: (زه هغو خلكو ته حيران شوم چې د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- څخه يې صحيح ِاسناد پيژندلى دى بيا هم د سفيان پسې ځي، حال دا چې الله -سبحانه- فرمايلي دي:

﴿فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾

﴿فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾

[نو هغه كسان دې ووېرېږي چې د هغه (رسول) له حكم نه مخالفت كوي، له دې نه چې دوى ته څه افت ورسيږي، يا دوى ته ډېر دردوونكى عذاب ورسيږي]. فرمايي: آيا پوهيږې چې فتنه څه ده؟ فتنه شرک دى، كيدى شي كله چې د رسول الله - صلى الله عليه وسلم - ځيني وينا رد كړي او په زړه كې يې يو څه انحراف راشي نو هلاک به شي)،

بيهقي له مجاهد بن جبر څخه روايت کوي چې هغه د الله تعالی د دې وینا په اړه فرمایلي دي:

﴿فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ﴾

﴿فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ﴾

[نو که چېرې تاسو په خپلو کې د څه شي په باره کې هم نزاع (جګړه او اختلاف) وکړئ، نو هغه (شی) الله او د هغه رسول ته وګرځوئ] (فرمايي: الله تعالى ته رجوع كول د هغه كتاب ته رجوع كول دي، او رسول ته رجوع كول د هغه سنت ته رجوع كول دي)،

بيهقي له زهري - رحمه الله - څخه روايت کوي چې هغه فرمايلي دي: (زمونږ پخوانيو علماوو به ويل چې د سنتو پيروي كول نجات دی).

او موفق الدين ابن قدامه - رحمه الله - په خپل کتاب روضة الناظر کې د حكمونو د اصولو په اړه فرمايلي دي چې: (او له دلايلو څخه دويم اصل د رسول الله - صلى الله عليه وسلم - سنت دي، او د رسول الله - صلى الله عليه وسلم - وينا حجت دی، ځکه چې معجزه د هغه په رښتينولی، او د الله -تعالى- د هغه په پيروی امر کړی او د هغه له مخالفت څخه يې خبرداری ورکړی دی).

وينا پاي ته ورسيده.

او حافظ ابن كثير - رحمه الله - د الله -تعالى- د دې وينا په تفسير کې فرمايلي دي:

﴿فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾

﴿فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾

(نو هغه کسان دې ووېرېږي چې د هغه (رسول) له حکم نه مخالفت کوي، له دې نه چې دوی ته څه افت ورسېږي، یا دوی ته ډېر دردوونکی عذاب ورسېږي). (یعني د رسول الله - صلی الله علیه وسلم - له امر څخه؛ کوم چې د هغه لاره، منهج، طریقه، سنت او قانون دی، نو وینا او کړنې د هغه په وینا او کړنو باندې تلل کیږي، نو کوم چې ورسره موافق وي هغه منل کیږي او کوم چې ورسره مخالف وي هغه یې په ویونکی مردود دي اګر که ویونکی یې هر څوک وي).

لکه څرنګه چې په صحیحینو او نورو کې له رسول الله - صلی الله علیه وسلم - څخه ثابت دي چې هغه فرمایلي دي:

«مَنْ عَمِلَ عَمَلًا ليسَ عَليهِ أَمْرُنا فَهُوَ رَدّ»

«مَنْ عَمِلَ عَمَلًا ليسَ عَليهِ أَمْرُنا فَهُوَ رَدّ»

"څوک چې یو عمل وکړي چې زموږ حکم پرې نه وي، هغه مردود دی"

یعني هغه څوک دې ووېرېږي او ځان دې وساتي چې په ښکاره او پټه د رسول د شریعت مخالفت کوي:

﴿أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ﴾.

﴿أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ﴾. چې دوي ته به څه آفت ورسیږي.

یعني د دوي په زړونو کې به د کفر، نفاق او بدعت څخه وي.

﴿أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾.

﴿أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾.

(يا دوي ته ډير دردوونکی عذاب ورسيږي)

يعنې په دنيا کې په وژلو، حد پرې جاري کېدلو، زنداني کېدلو او داسې نورو سره، لکه څرنګه چې امام احمد روايت کړی دی وايي: مونږ ته عبد الرزاق حديث بيان کړ، هغه وايي: مونږ ته معمر حديث بيان کړ له همام بن منبه څخه چې فرمايلي دي: دا هغه څه دي چې مونږ ته ابو هريره بيان کړي دي چې: رسول الله - صلى الله عليه وسلم - فرمايلي دي:

«مثَلي وَمثَلُكمْ كمَثَلِ رجلٍ اسْتَوْقَدَ نارًا فَلمّا أَضَاءَتْ مَا حَوْلَهَا جَعَلَ الفراشُ وهَذِهِ الدّوابُّ اللائِي يَقَعْنَ في النَّار يَقَعْنَ فِيهّا وَجعَلَ يَحْجُزُهُنّ وَيَغْلِبْنَهُ فَيقْتَحِمْنَ فِيهَا قَالَ فَذَلِك مَثَلي وَمَثَلَكمْ أَنا آخُذُ بحَجْزِكُم عَن النَّار هَلُمّ عَن النارِ فَتَغْلِبُوني وَتَقْتَحِمُونَ فِيهَا»

«زما او ستاسو مثال د هغه سړي په څېر دی چې اور يې بل کړی وي نو کله يې چې شاوخوا روښانه شي پتنګان او دا حيوانات چې په اور کې لويږي پرې راتوی شي نو هغه يې ورڅخه منع کوي خو هغوی پرې غالب شي او ځان پکې ورغورځوي، نو همدا زما او ستاسو مثال دی چې زه مو له اور څخه راګرځوم او درته وايم چې له اور څخه - زما لور ته راشئ - خو تاسو راباندې غالب شئ او ځان پکې وغورځوئ»

دواړو د عبد الرزاق له حديث څخه روايت کړي دي

او سيوطي - رحمه الله - په خپله رساله: مفتاح الجنة في الاحتجاج بالسنة کې داسې فرمايلي دي: پوه شئ - الله دې پر

تاسو رحم وکړي - ځوک چې د رسول الله - صلی الله علیه وسلم - د حدیث له حجیت څخه انکار وکړي - که هغه قولي یا فعلي چې په اصولو کې په پېژندل شوو شرطونو برابر وي نو هغه کفر وکړ او د اسلام له دائرې څخه ووت او له یهودو او نصاراو سره به راپورته کیږي او یا له هغو کافرو ډلو سره چې الله یې وغواړي.

وینا پای ته ورسیده.

او له صحابه کرامو، تابعینو او له هغوی څخه وروسته د اهل علمو څخه د سنتو د تعظیم او پرې د عمل کولو او د هغه له مخالفت څخه د ځان ساتلو په اړه ډېر زیات آثار راغلي دي او زه هیله لرم چې هغه څه چې مونږ له آیتونو، حدیثونو او آثارو څخه یاد کړل د حق غوښتونکي لپاره کافي او قانع کوونکي وي، او مونږ له الله تعالی څخه غواړو چې مونږ او ټولو مسلمانانو ته د هغه کار توفیق راکړي چې هغه پرې راضي کیږي او د هغه د غضب له اسبابو څخه پرې ژغورل کیږو او مونږ ټولو ته د هغه مستقیمه لار وښایي، بیشکه چې هغه اوریدونکی او نږدې دی.

وصلی الله وسلم علی عبده ورسوله، نبینا محمد وعلی آله وأصحابه وأتباعه بإحسان.

عبد العزیز بن عبد الله بن باز - رحمه الله -

# فهرست

د رسول الله - صلى الله عليه وسلم - په سنتو د عمل کولو وجوب او ورڅخه د انکار کوونکو کفر........................................................... 2
لیکنه:........................................................................................ 2
سرېزه....................................................................................... 2
د احکامو د اثبات لپاره معتبر اصول............................................. 3
لومړی اصل :د الله تعالی - محبوب- کتاب. .................................. 3
دویم اصل :هغه چې له رسول الله- صلى الله عليه وسلم - صحابه کرامو او له هغوی وروسته د علم او ایمان له خاوندانو صحیح ثابت دي...... 7

ps50v1.0 - 03/09/2026